DTM
AFGHANISTAN
IOM • OIM

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

د پايلي لنډيز . يولسم پړاو
جولای – ډسمبر ۲۰۲۰


تعليمي او اقتصادي فرصتونو ته د لاسرسي کموالي له امله ماشومان د شاقه کارونو ترسره کولو ته اړ شوي، لکه دا ماشومان چې په باميان ولايت کې دي. © IOM ۲۰۲۰

## د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم (DTM)

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم داسې يو سيستم دی چې د خلکو د بېځايه کېدنې او تحرک له بهير څخه تعقيب او څارنه کوي. دا سيستم په سيستماټيک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سيمه او يا لاره کې د بېځايه شويو خلکو د څخه اړتياوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

د بېځايه کېدونکو د تعقيب سيستم په افغانستان کې د تحرک د ارزونې بنسټيزې وسيلې کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه وشي او د نفوس په هکله اټکلونه، د بېځايه شويو موقعيتونه او جغرافيه وي ويش څرګند شي. سربېره پر دي د DTM د بېځايه کېدو مهال، علت، اصلي سيمې، لومړني ډيموګرافيکي معلومات، زيانمنتياوې او د اړتياوو لومړيتوبونو څخه څارنه کوي. معلومات د کليو په کچه د ډله ايزو بحثونو، مخامخ کتنو او کليدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړيوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پياوړتيا ورکوي چې سرچينې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړيتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پايداره او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د تولنې د بيا يوځای کېدنې، ثبات او پراختيا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعيتونه

DTM د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعيتونو کټګوريو موقعيت، نفوس او څو سکټوريزې اړتياوې څاري:

۱. بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي
هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ مياشتو لپاره د هېواد څخه بهر اوسېدلي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان
هغه افغانان چې بهرنيو هېوادونو ته تللي او يا کډه شوي وي

کورني بېځايه شوي په لاندې درېو کټګوريو وېشل شوي دي:

۳. کورني بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې ته پرېښي
د ارزول شويو کليو څخه هغه افغانان چې د کورني بېځايه شويو په توګه يې خپلې سيمې پرېښي ترڅو د افغانستان دننه په يوې بلې سيمې کې ژوند وکړي

۴. راغلي کورني بېځايه شوي کسان
د نورو سيمو څخه کورني بېځايه شوي کسان چې اوسمهال په يوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي کورني بېځايه شوي کسان
هغه افغانان چې د ارزول شويو کليو څخه پخوا د کورني بېځايه شويو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

د ۵ موخې وړ جمعيتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځايه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ • ۲۰۱۶ • ۲۰۱۷ • ۲۰۱۸ • ۲۰۱۹ • ۲۰۲۰

## لنډه کتنه

**۳۴** ولايتونه وارزول شول
**۴۰۱** ولسوالۍ وارزول شوې
**۱۲,۶۰۰** کلي وارزول شول

**۷۲,۳۰۵**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۴,۱۹۶,۸۷۸**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۴,۹۳۷,۲۷۷**
کورني بېځايه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۵,۷۶۶,۹۴۱**
پخواني کورني بېځايه شوي اوس خپلو سيمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۳,۰۲۲,۸۸۹**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۳۹۹,۹۵۴**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له جملې ۱۳٪)

**۲۸۴,۶۴۳**
راستنېدونکي او کورني بېځايه شوي (۳٪) په خېمو او يا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۳ څخه ۲**
۶۳٪ کورني بېځايه شوي يوازې په ۸ ولاياتو کې اوسېږي: بادغيس، بلخ، هلمند، هرات، کابل، کندهار، ننګرهار او زابل

**۲ څخه ۱**
۴۹٪ راستنېدونکي په ۸ ولايتونو کې ژوند کوي: بغلان، بلخ، فارياب، هرات، جوزجان، کابل، کندز او ننګرهار

**۳ څخه ۱**
کس په فراه، هلمند، هرات، جوزجان، کنړ، لوګر او ننګرهار او له ۴۰٪ څخه زيات کسان په بادغيس، نيمروز او زابل کې يا کورني بېځايه شوي او يا هم راستنېدونکي دي

**۵ څخه ۲**
کسان د بادغيس، اورزګان، او وردګ او له ۵۰٪ کسانو له فراه او زابل ولايتونو څخه د کورني بېځايه شويو په توګه له خپلو اصلي سيمو څخه تللي

**۲ څخه ۱**
کس په بغلان، هلمند، کندز، تخار او زابل کې پخواني کورنی بېځايه شوي ول چې اوس خپلو سيمو ته بېرته ستانه شوي

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولایاتو په کچه لنډه کتنه

| ولایت | د وروستۍ ارزونې نېټه | مجموعي نفوس* | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي+ کورني بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | کورني بېځایه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې | د نفوس سلنه | راغلي کورني بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اورزګان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴۲۰,۹۶۴ | ۸۴,۷۸۸ | ٪۱۷ | ۳,۰۴۱ | ٪۱ | ۱۶۸,۸۰۲ | ٪۴۰ | ۸۱,۷۴۷ | ٪۱۶ | ۱۱۴,۵۰۴ | ٪۲۷ | ۱,۸۴۳ | ٪۰ |
| بادغیس | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۵۳۰,۵۷۴ | ۳۷۴,۹۲۶ | ٪۴۱ | ۱۲۸,۹۷۱ | ٪۱۴ | ۲۲۲,۰۷۳ | ٪۴۲ | ۲۴۵,۹۵۵ | ٪۲۷ | ۱۲۴,۴۳۶ | ٪۲۳ | ۱۲۸,۰۰۶ | ٪۲۴ |
| باميان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴۷۸,۴۲۴ | ۷۳,۸۲۳ | ٪۱۳ | ۳۶,۲۷۵ | ٪۷ | ۱۰۷,۴۲۴ | ٪۲۲ | ۳۷,۵۴۸ | ٪۷ | ۶۶,۶۰۰ | ٪۱۴ | ۳۵,۹۵۰ | ٪۸ |
| بدخشان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۰۱۷,۴۹۹ | ۱۷۶,۲۶۹ | ٪۱۵ | ۹۸,۱۴۴ | ٪۸ | ۱۹۵,۲۶۵ | ٪۱۹ | ۷۸,۱۲۵ | ٪۷ | ۱۶۲,۳۱۳ | ٪۱۶ | ۱۰۶,۲۷۷ | ٪۱۰ |
| بغلان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۹۷۷,۲۹۷ | ۲۲۷,۵۵۰ | ٪۱۹ | ۱۷۶,۵۲۲ | ٪۱۵ | ۱۶۷,۴۹۱ | ٪۱۷ | ۵۱,۰۲۸ | ٪۴ | ۵۵۶,۱۲۴ | ٪۵۷ | ۱۴۱,۰۳۰ | ٪۱۴ |
| بلخ | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۴۴۲,۸۴۷ | ۵۴۹,۸۵۷ | ٪۲۸ | ۱۸۹,۸۲۰ | ٪۱۰ | ۲۱۶,۰۰۲ | ٪۱۵ | ۳۶۰,۰۳۷ | ٪۱۸ | ۶۶,۶۳۱ | ٪۵ | ۲۰۴,۷۳۴ | ٪۱۴ |
| پروان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷۱۱,۶۲۱ | ۱۱۷,۰۲۰ | ٪۱۴ | ۷۱,۵۲۳ | ٪۹ | ۹۸,۴۲۲ | ٪۱۴ | ۴۵,۴۹۷ | ٪۵ | ۷۰,۷۱۸ | ٪۱۰ | ۷۰,۴۷۳ | ٪۱۰ |
| پکتيا | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۵۹۰,۶۶۸ | ۱۱۸,۰۴۲ | ٪۱۷ | ۷۸,۸۳۵ | ٪۱۱ | ۶۹,۸۳۸ | ٪۱۲ | ۳۹,۲۰۷ | ٪۶ | ۸۷,۴۸۰ | ٪۱۵ | ۲۶,۲۸۷ | ٪۴ |
| پکتيکا | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷۴۸,۹۱۰ | ۱۰۵,۸۸۵ | ٪۱۲ | ۵۴,۳۵۵ | ٪۶ | ۳۷,۹۷۶ | ٪۵ | ۵۱,۵۳۰ | ٪۶ | ۲۴,۴۳۷ | ٪۳ | ۳۸,۲۹۳ | ٪۵ |
| پنجشېر | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۶۴,۱۱۵ | ۵,۴۵۴ | ٪۳ | ۱,۷۴۱ | ٪۱ | ۱,۶۸۰ | ٪۱ | ۳,۷۱۳ | ٪۲ | ۴,۱۹۱ | ٪۳ | ۴,۶۰۰ | ٪۳ |
| تخار | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۰۵۳,۸۵۲ | ۲۴۷,۰۵۹ | ٪۱۹ | ۱۶۲,۳۸۰ | ٪۱۲ | ۱۳۶,۷۳۶ | ٪۱۳ | ۸۴,۶۷۹ | ٪۷ | ۵۶۲,۶۰۹ | ٪۵۳ | ۱۹۷,۱۳۳ | ٪۱۹ |
| جوزجان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۵۷۹,۸۳۳ | ۳۲۷,۹۲۳ | ٪۳۶ | ۱۸۲,۶۵۸ | ٪۲۰ | ۱۴۷,۱۳۹ | ٪۲۵ | ۱۴۵,۲۶۵ | ٪۱۶ | ۱۸۵,۷۴۳ | ٪۳۲ | ۲۱۰,۱۲۱ | ٪۳۶ |
| خوست | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۶۱۴,۵۸۴ | ۱۵۴,۹۷۷ | ٪۲۰ | ۸۲,۸۲۸ | ٪۱۱ | ۳۷,۳۸۹ | ٪۶ | ۷۲,۱۴۹ | ٪۹ | ۶,۹۷۴ | ٪۱ | ۲۹,۹۳۰ | ٪۵ |
| دايکندي | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴۹۸,۸۴۰ | ۵۵,۰۰۸ | ٪۱۰ | ۳۹,۰۹۵ | ٪۷ | ۴۵,۶۰۹ | ٪۹ | ۱۵,۹۱۳ | ٪۳ | ۲۳,۳۶۲ | ٪۵ | ۷۰,۸۸۱ | ٪۱۴ |
| زابل | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۳۷۱,۰۴۳ | ۳۱۴,۷۱۹ | ٪۴۶ | ۱۳۴,۳۸۴ | ٪۲۰ | ۱۹۹,۴۲۹ | ٪۵۴ | ۱۸۰,۳۳۵ | ٪۲۶ | ۱۷۶,۵۱۱ | ٪۴۸ | ۱۱۴,۴۰۱ | ٪۳۱ |
| سرپل | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۵۹۹,۱۳۷ | ۲۲۱,۲۲۲ | ٪۲۷ | ۱۱۲,۹۷۱ | ٪۱۴ | ۱۱۸,۹۷۴ | ٪۲۰ | ۱۰۸,۲۵۱ | ٪۱۳ | ۸۸,۹۲۸ | ٪۱۵ | ۱۲۳,۴۷۹ | ٪۲۱ |
| سمنګان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴۱۵,۳۴۳ | ۸۰,۹۸۵ | ٪۱۶ | ۴۱,۵۴۱ | ٪۸ | ۱۰۶,۴۸۹ | ٪۲۶ | ۳۹,۴۴۴ | ٪۸ | ۶۸,۸۹۵ | ٪۱۷ | ۴۳,۰۹۸ | ٪۱۰ |
| غزني | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۳۱۵,۰۴۱ | ۲۴۵,۴۵۹ | ٪۱۶ | ۶۵,۹۲۱ | ٪۴ | ۱۲۵,۶۶۲ | ٪۱۰ | ۱۷۹,۵۳۸ | ٪۱۲ | ۱۱۷,۶۵۶ | ٪۹ | ۵۸,۷۳۱ | ٪۴ |
| غور | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷۳۸,۲۲۴ | ۱۳۶,۳۹۸ | ٪۱۶ | ۵۲,۰۰۲ | ٪۶ | ۹۲,۹۵۱ | ٪۱۳ | ۸۴,۳۹۶ | ٪۱۰ | ۴۵,۹۱۸ | ٪۶ | ۵۷,۱۳۱ | ٪۸ |
| فارياب | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۰۶۹,۵۴۰ | ۳۲۵,۱۱۴ | ٪۲۳ | ۲۵۱,۸۲۵ | ٪۱۸ | ۲۹۱,۰۲۴ | ٪۲۷ | ۷۳,۲۸۹ | ٪۵ | ۱۰۶,۰۲۶ | ٪۱۰ | ۳۰۹,۱۳۱ | ٪۲۹ |
| فراه | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۵۴۳,۲۳۷ | ۲۳۲,۳۹۰ | ٪۳۰ | ۸۵,۹۶۶ | ٪۱۱ | ۲۸۵,۱۹۱ | ٪۵۲ | ۱۴۶,۴۲۴ | ٪۱۹ | ۱۴۲,۰۲۸ | ٪۲۶ | ۱۰۱,۹۷۷ | ٪۱۹ |
| کابل | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴,۸۶۰,۸۸۰ | ۶۳۹,۲۲۳ | ٪۱۲ | ۲۸۲,۸۵۶ | ٪۵ | ۱۰۷,۱۷۳ | ٪۲ | ۳۵۶,۳۶۷ | ٪۶ | ۵۸,۲۹۵ | ٪۱ | ۹۹,۵۲۳ | ٪۲ |
| کاپيسا | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴۷۱,۵۷۴ | ۱۰۷,۵۱۲ | ٪۱۹ | ۴۵,۰۶۸ | ٪۸ | ۹۴,۸۱۱ | ٪۲۰ | ۶۲,۴۴۴ | ٪۱۱ | ۴۵,۹۶۴ | ٪۱۰ | ۵۴,۷۶۴ | ٪۱۲ |
| کندز | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۰۹۱,۱۱۶ | ۲۹۸,۴۵۰ | ٪۲۱ | ۲۱۱,۷۹۴ | ٪۱۵ | ۱۷۴,۰۴۹ | ٪۱۶ | ۸۶,۶۵۶ | ٪۶ | ۱,۳۶۴,۷۶۹ | ٪۱۲۵ | ۱۶۵,۳۴۲ | ٪۱۵ |
| کندهار | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۳۳۷,۱۸۳ | ۳۶۷,۳۵۵ | ٪۲۲ | ۹۸,۲۹۹ | ٪۶ | ۳۶۵,۷۹۵ | ٪۲۷ | ۲۶۹,۰۵۶ | ٪۱۶ | ۱۳۱,۸۹۶ | ٪۱۰ | ۲۳,۲۵۶ | ٪۲ |
| کنړ | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴۸۲,۱۱۵ | ۲۰۶,۷۷۸ | ٪۳۰ | ۱۰۴,۹۴۸ | ٪۱۵ | ۱۰۴,۲۰۴ | ٪۲۲ | ۱۰۱,۸۳۰ | ٪۱۵ | ۶۸,۰۴۹ | ٪۱۴ | ۱۵,۹۹۰ | ٪۳ |
| لغمان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴۷۶,۵۳۷ | ۱۷۴,۷۷۶ | ٪۲۷ | ۱۲۴,۱۴۹ | ٪۱۹ | ۱۰۸,۳۱۸ | ٪۲۳ | ۵۰,۶۲۷ | ٪۸ | ۱۴,۴۳۶ | ٪۳ | ۳۶,۶۳۷ | ٪۸ |
| لوګر | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۴۱۹,۳۷۷ | ۱۹۹,۱۱۱ | ٪۳۲ | ۱۷۱,۷۴۷ | ٪۲۸ | ۱۲۸,۹۰۳ | ٪۳۱ | ۲۷,۳۶۴ | ٪۴ | ۱۵,۱۴۹ | ٪۴ | ۷۷,۷۳۱ | ٪۱۹ |
| ننګرهار | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۶۳۵,۸۷۲ | ۸۸۰,۸۱۷ | ٪۳۵ | ۵۵۸,۳۶۱ | ٪۲۲ | ۲۸۶,۸۶۱ | ٪۱۸ | ۳۲۲,۴۵۶ | ٪۱۳ | ۴۴۶,۶۷۷ | ٪۲۷ | ۵۹,۹۷۰ | ٪۴ |
| نورستان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۵۸,۲۱۱ | ۵,۲۷۸ | ٪۳ | ۰ | ٪۰ | ۱۶,۶۹۹ | ٪۱۱ | ۵,۲۷۸ | ٪۳ | ۱,۱۶۲ | ٪۱ | ۷۹ | ٪۰ |
| نيمروز | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۷۶,۸۹۸ | ۱۳۵,۶۷۸ | ٪۴۳ | ۵۳,۶۴۴ | ٪۱۷ | ۲۰,۲۴۸ | ٪۱۱ | ۸۲,۰۳۴ | ٪۲۶ | ۲۳,۵۷۸ | ٪۱۳ | ۳۷,۶۸۶ | ٪۲۱ |
| هرات | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۲,۰۵۰,۵۱۴ | ۱,۱۷۳,۷۸۸ | ٪۳۶ | ۲۱۸,۹۱۰ | ٪۷ | ۲۶۰,۴۲۵ | ٪۱۳ | ۹۵۴,۸۷۸ | ٪۳۰ | ۱۲۲,۷۳۶ | ٪۶ | ۲۴۱,۳۲۳ | ٪۱۲ |
| هلمند | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱,۳۹۵,۵۱۴ | ۵۸۹,۵۰۰ | ٪۳۰ | ۱۴۵,۴۴۱ | ٪۷ | ۴۲۳,۱۰۷ | ٪۳۰ | ۴۴۴,۰۵۹ | ٪۲۲ | ۶۴۰,۴۸۹ | ٪۴۶ | ۶۵,۹۶۳ | ٪۵ |
| وردک | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۶۳۷,۶۳۴ | ۱۸۱,۰۲۱ | ٪۲۲ | ۱۳۰,۸۶۳ | ٪۱۶ | ۲۶۳,۴۱۷ | ٪۴۱ | ۵۰,۱۵۸ | ٪۶ | ۳۱,۶۵۷ | ٪۵ | ۷۱,۱۱۹ | ٪۱۱ |
| مجموعه | | ۳۰,۰۷۵,۰۱۸ | ۹,۱۳۴,۱۵۵ | ٪۲۳ | ۴,۱۹۶,۸۷۸ | ٪۱۱ | ۵,۲۲۵,۵۷۶ | ٪۱۷ | ۴,۹۳۷,۲۷۷ | ٪۱۳ | ۵,۷۶۶,۹۴۱ | ٪۱۹ | ۳,۰۲۲,۸۸۹ | ٪۱۰ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري (NSIA) اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪



دي ټولنې په سرپل ولايت کې سولري واټر پمپ نصب کړی ترڅو د ټولنې د اوبو اړتیاوې رفع کړي. © IOM ۲۰۲۰

## تګلاره

د بېځایه کېدونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیټې معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تري کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې ور جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې ور جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.



لکه څنګه چې ښځینه کارکوونکي په ډله ایزو بحثونو کې زیات شمېر ښځینه ګډونوال جذبوي د بېځایه کېدونکو د تعقیب سیستم هڅه کوي چې ښځینه کارکوونکي لا زیات استخدام کړي تر څو د جنسیت پر بنسټ متوازن معلومات راټول کړي. © IOM ۲۰۲۰

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولني د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د څو سکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له جملې څخه یوازې ۲٪ یې ښځې دي. که څه هم دا لږ ده خو بیا هم د DTM د لومړي پړاو ارزونې په پرتله پرمختګ ښیي چې د ۲۰۱۷ کال په مارچ کې بشپړ شوی وه او ۰.۱٪ ښځو تري استازیتوب کاوه.

**۷۲،۳۰۵**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۸،۷۹۴**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم کورني بېځایه شوي (۱۲٪)

**۲،۴۵۹**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳٪)

**۱۷،۵۵۰**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۴٪)

**۶۹،۸۴۶**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۷٪)

**۲۳،۷۹۶**
څو سکټوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۳٪)

**۵,۷**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۱۹،۴۳۵**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۷٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | عمومي



# بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنيو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو مياشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شويو سيمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کورنيو هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بيا UNHCR او اړوند حکومتي چاړواکو ته يې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاړواکو سره ثبت ول او که نه).

د راستنېدونکو شمېر له ۲۰۱۶ کال څخه را په دې خوا د هر کال په ترڅ کې په لوړه کچه راټيټ شوی خو اروپايي هېوادونو څخه د راستنېدو کچه ډېره لږه زياته شوې. ننګرهار ولايت په ملي کچه له ۱۳٪ راستنېدونکو څخه کوربه توب کوي.

**۴،۱۹۶،۸۷۸**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

**۲،۲۱۸،۴۷۸**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۵۳٪)

**۲،۶۷۸،۲۵۱**
له ايران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۶۴٪)

**۱،۷۲۱،۶۶۱**
ايران څخه راستنېدونکي (۴۱٪)

**۱،۲۶۱،۸۸۸**
له ايران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۳۰٪)

**۲۵۶،۷۳۹**
غير ګاونډيو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۶٪)















# راغلي کورني بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو له امله یا تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او د طبیعی پیښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پیښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوېو/ کوربه ټولنو ته تللي او ژوند کوي.

زمونږ د کلیدي معلومات ورکوونکو په وینا، له ۲۰۱۶ تر ۲۰۱۸ کلونو پورې د هر کال په ترڅ کې له ۱ میلیون څخه زیات افغانان د جګړو او طبیعی پېښو له امله بېځایه شوي دي. که څه هم د ۲۰۱۷ کال په پرتله په ۲۰۱۸ کال کې د کورنیو بېځایه شویو شمېر یوازې لږ زیات شوی خو په ۲۰۱۹ کال کې ۲۶٪ کم شوی خو په ۲۰۲۰ کال کې بیا ۱۶٪ زیات شوی. په ۲۰۲۰ کال کې جوزجان، کاپیسا، پکتیکا، وردک او زابل ولایت د کورنیو بېځایه شویو په شمېر کې د ملاحظې وړ زیاتوالی ښیي چې ښایي لامل یې دا وي چې د جاري جګړو څخه د خلاصون لپاره افغانان خوندي سیمو ته تللي وي. هرات ولایت تر ټولو ډېر زیاتمن دی ځکه چې د هېواد په کچه له ۱۹٪ کورني بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي.

**۴،۹۳۷،۲۷۷**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلی بېځایه شوي

**۳,۸۵۸,۷۵۲**
د کړکېچ یا جګړو له امله بېځایه شوي (۷۸٪)

**۹۵۴،۸۷۸**
په هرات ولایت کې کورني بېځایه شوي کسان چې دا تر ټولو زیات شمېر دی

**۱,۰۷۸,۵۲۵**
د طبیعی پېښو له امله بېځایه شوي (۲۲٪)

**۲۸۳،۰۲۸**
کورني بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۶٪)

**۳ څخه ۲**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي (۶۴٪)

راغلي کورني بېځایه شوي کسان | کلنۍ بهیر




د اصلي ولایت پر بنسټ راغلي کورني بېځایه شوي کسان | عمومي




د ولایت پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت راغلي کورني بېځایه شوي کسان




د ولایت پر بنسټ راغلي کورني بېځایه شوي کسان | کلنۍ بهیر




راغلي کورني بېځایه شوي کسان | پناه ځای | عمومي



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي)




## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولایت پر بنسټ لنډیز

| ولایت | راستنېدونکي | کورني بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| هرات | ۲۱۸,۹۱۰ | ۹۵۴,۸۷۸ | ۱,۱۷۳,۷۸۸ |
| ننګرهار | ۵۵۸,۳۶۱ | ۳۲۲,۴۵۶ | ۸۸۰,۸۱۷ |
| هلمند | ۲۸۲,۸۵۶ | ۳۵۶,۳۶۷ | ۶۳۹,۲۲۳ |
| کابل | ۱۴۵,۴۴۱ | ۴۴۴,۰۵۹ | ۵۸۹,۵۰۰ |
| بلخ | ۱۸۹,۸۲۰ | ۳۶۰,۰۳۷ | ۵۴۹,۸۵۷ |
| بادغیس | ۱۲۸,۹۷۱ | ۲۴۵,۹۵۵ | ۳۷۴,۹۲۶ |
| جوزجان | ۹۸,۲۹۹ | ۲۶۹,۰۵۶ | ۳۶۷,۳۵۵ |
| کندهار | ۱۸۲,۶۵۸ | ۱۴۵,۲۶۵ | ۳۲۷,۹۲۳ |
| فاریاب | ۲۵۱,۸۲۵ | ۷۳,۲۸۹ | ۳۲۵,۱۱۴ |
| زابل | ۱۳۴,۳۸۴ | ۱۸۰,۳۳۵ | ۳۱۴,۷۱۹ |
| کندز | ۲۱۱,۷۹۴ | ۸۶,۶۵۶ | ۲۹۸,۴۵۰ |
| کنړ | ۱۶۲,۳۸۰ | ۸۴,۶۷۹ | ۲۴۷,۰۵۹ |
| غزني | ۶۵,۹۲۱ | ۱۷۹,۵۳۸ | ۲۴۵,۴۵۹ |
| تخار | ۸۵,۹۶۶ | ۱۴۶,۴۲۴ | ۲۳۲,۳۹۰ |
| فراه | ۱۷۶,۵۲۲ | ۵۱,۰۲۸ | ۲۲۷,۵۵۰ |
| بغلان | ۱۱۲,۹۷۱ | ۱۰۸,۲۵۱ | ۲۲۱,۲۲۲ |
| سرپل | ۱۰۴,۹۴۸ | ۱۰۱,۸۳۰ | ۲۰۶,۷۷۸ |
| لوګر | ۱۷۱,۷۴۷ | ۲۷,۳۶۴ | ۱۹۹,۱۱۱ |
| لغمان | ۱۳۰,۸۶۳ | ۵۰,۱۵۸ | ۱۸۱,۰۲۱ |
| بدخشان | ۹۸,۱۴۴ | ۷۸,۱۲۵ | ۱۷۶,۲۶۹ |
| خوست | ۱۲۴,۱۴۹ | ۵۰,۶۲۷ | ۱۷۴,۷۷۶ |
| وردک | ۸۲,۸۲۸ | ۷۲,۱۴۹ | ۱۵۴,۹۷۷ |
| نیمروز | ۵۲,۰۰۲ | ۸۴,۳۹۶ | ۱۳۶,۳۹۸ |
| غور | ۵۳,۶۴۴ | ۸۲,۰۳۴ | ۱۳۵,۶۷۸ |
| کاپیسا | ۷۸,۸۳۵ | ۳۹,۲۰۷ | ۱۱۸,۰۴۲ |
| پروان | ۷۱,۵۲۳ | ۴۵,۴۹۷ | ۱۱۷,۰۲۰ |
| پکتیکا | ۴۵,۰۶۸ | ۶۲,۴۴۴ | ۱۰۷,۵۱۲ |
| پکتیا | ۵۴,۳۵۵ | ۵۱,۵۳۰ | ۱۰۵,۸۸۵ |
| بامیان | ۳,۰۴۱ | ۸۱,۷۴۷ | ۸۴,۷۸۸ |
| اورزګان | ۴۱,۵۴۱ | ۳۹,۴۴۴ | ۸۰,۹۸۵ |
| سمنګان | ۳۶,۲۷۵ | ۳۷,۵۴۸ | ۷۳,۸۲۳ |
| دایکندی | ۳۹,۰۹۵ | ۱۵,۹۱۳ | ۵۵,۰۰۸ |
| پنجشیر | ۱,۷۴۱ | ۳,۷۱۳ | ۵,۴۵۴ |
| نورستان | ۰ | ۵,۲۷۸ | ۵,۲۷۸ |
| مجموعه | ۴,۱۹۶,۸۷۸ | ۴,۹۳۷,۲۷۷ | ۹,۱۳۴,۱۵۵ |

په لاندې جدول کې ۲۵ ولسوالۍ ښودل شوي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او کورني بېځایه شوي (ټولټال راغلي کسان) لري. دا سیمې د ټولنې د بې ثباتۍ په برابر کې اغیزمنې او حساسې دي چې د راستنیدونکو او کورني بېځایه شویو لوړې کچې راتګ سره دا بې ثباتي رامنځ ته شوي. له دې امله اساسي خدمتونو او معیشت ته لاسرسی محدود شوی، ځای پر ځای کېدل د خطر سره مخ کېږي او د بیاځلي بېځایه کېدنې لامل ګرځي. هرات ولایت د هیواد په کچه تر ټولو زیاتو کورني بېځایه شویو شخه کوربه توب کوي چې د جګړو او طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي (۹۵۴،۸۷۸). له دې شمېر شخه ۶۳٪ کسان د جګړو له امله بېځایه شوي او ۳۷٪ د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي. د هرات ولایت دننه تر ټولو زیات کورني بېځایه شوي (۳۲۰،۱۷۷) په خپله هرات ولسوالۍ کې اوسېږي. ننګرهار ولایت تر ټولو زیات راستنېدونکو (۵۵۸،۳۶۱) شخه کوربه توب کوي چې ډېری یې (۱۲۷،۱۵۳) په بهسود ولسوالۍ کې اوسېږي.

## ۲۵ لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي + داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | ولسوالی | ولایت | راستنېدونکي | کورني بېځایه شوي | ټولټال وارد شوي |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | هرات | هرات | ۱۰۵,۰۲۶ | ۳۲۰,۱۷۷ | ۴۲۵,۲۰۳ |
| ۲ | کابل | کابل | ۹۹,۵۱۰ | ۲۰۳,۷۲۱ | ۳۰۳,۲۳۱ |
| ۳ | لشکرګاه | هلمند | ۳۸,۱۵۹ | ۲۴۰,۰۵۱ | ۲۷۸,۲۱۰ |
| ۴ | بهسود | ننګرهار | ۱۲۷,۱۵۳ | ۱۰۳,۹۷۸ | ۲۳۱,۱۳۱ |
| ۵ | قلعه نو | بادغیس | ۳۰,۵۲۹ | ۱۶۶,۰۱۲ | ۱۹۶,۵۴۱ |
| ۶ | شبرغان | جوزجان | ۷۴,۲۶۹ | ۱۱۱,۹۲۴ | ۱۸۶,۱۹۳ |
| ۷ | قلات | زابل | ۳۷,۷۱۷ | ۱۱۸,۱۸۷ | ۱۵۵,۹۰۴ |
| ۸ | غزني | غزني | ۱۵,۴۹۰ | ۱۳۵,۹۷۰ | ۱۵۱,۴۶۰ |
| ۹ | سرپل | سرپل | ۵۲,۲۴۶ | ۸۹,۸۳۹ | ۱۴۲,۰۸۵ |
| ۱۰ | کندهار | کندهار | ۲۷,۸۹۵ | ۱۱۱,۲۶۵ | ۱۳۹,۱۶۰ |
| ۱۱ | کرخ | هرات | ۱۰,۱۷۶ | ۱۲۸,۳۳۹ | ۱۳۸,۵۱۵ |
| ۱۲ | دهدادي | بلخ | ۱۲,۱۶۶ | ۱۲۳,۱۵۱ | ۱۳۵,۳۱۷ |
| ۱۳ | مزار شریف | بلخ | ۲۶,۱۴۲ | ۱۰۷,۰۶۶ | ۱۳۳,۲۰۸ |
| ۱۴ | سرخرود | ننګرهار | ۵۹,۹۸۷ | ۷۲,۴۶۴ | ۱۳۲,۴۵۱ |
| ۱۵ | ګذره | هرات | ۹,۸۵۶ | ۱۱۰,۳۲۵ | ۱۲۰,۱۸۱ |
| ۱۶ | نهر شاهي | بلخ | ۱۹,۴۳۹ | ۷۲,۹۸۳ | ۹۲,۴۲۲ |
| ۱۷ | زرنج | نیمروز | ۳۲,۲۰۱ | ۵۷,۵۴۵ | ۸۹,۷۴۶ |
| ۱۸ | انجیل | هرات | ۱۳,۵۰۴ | ۷۵,۹۳۵ | ۸۹,۴۳۹ |
| ۱۹ | فراه | فراه | ۱۹,۶۲۹ | ۶۶,۱۲۳ | ۸۵,۷۵۲ |
| ۲۰ | بګرامي | کابل | ۳۴,۶۰۳ | ۴۶,۰۳۵ | ۸۰,۶۳۸ |
| ۲۱ | نهر سراج | هلمند | ۲۸,۱۴۳ | ۴۹,۱۷۱ | ۷۷,۳۱۴ |
| ۲۲ | کندز | کندز | ۴۵,۳۷۰ | ۲۸,۷۳۹ | ۷۴,۱۰۹ |
| ۲۳ | میدان شهر | وردک | ۲۸,۰۷۵ | ۴۵,۲۸۸ | ۷۳,۳۶۳ |
| ۲۴ | بالا مرغاب | بادغیس | ۲۸,۳۳۶ | ۴۴,۱۱۸ | ۷۲,۴۵۴ |
| ۲۵ | شیرین تګاب | فاریاب | ۶۸,۷۴۶ | ۳,۰۴۶ | ۷۱,۷۹۲ |
| | | مجموعه | ۱,۰۴۴,۳۶۷ | ۲,۶۳۱,۴۵۲ | ۳,۶۷۵,۸۱۹ |

## کورني بېځایه شوي چې خپلي اصلي سیمې ېې پرېښي

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه چې هلته یې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه یوې بلې سیمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه خوندي ووسي.

**۵,۲۲۵,۵۷۶** کورني بېځایه شوي چې خپلې سیمې یې پرېښي

**۳ څخه ۲** په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي (۶۸٪)

**۳,۶۱۹,۹۵۴** د کړکېچ یا جګړو له امله بېځایه شوي (۶۹٪)

**۱,۶۰۵,۶۲۲** د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي (۳۱٪)

کورني بېځایه شوي کسان چې خپلي اصلی سیمې یې پرېښي | کلنی بهیر




د ولایت پر بنسټ کورني بېځایه شوي کسان چې خپلي اصلی سیمې یې پرېښي | کلنی بهیر




## راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان

راستانه شوي کورني بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوې سیمې دي او پخوا یې پرېښې وې بیرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسلو والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.

**۵,۷۶۶,۹۴۱** راستانه شوي کورني بېځایه شوي

**۸۵٪ څخه زیات** کورني بېځایه شوي له لوګر، لغمان او وردګ ولایتونو څخه خپلو اصلي سیمو ته نه دي ستانه شوي

**۵ څخه ۴** د عین ولایت له نورو سیمو څخه راستانه شوي (۸۳٪)

**۴ څخه ۱** ۲۴٪ راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان کندز ولایت ته تللي

راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر




د ولایت پر بنسټ راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر



# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي، کډوال او هغه کسان شاملېږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښی وي.

د ۲۰۱۵ کال راهیسې د کډوالو شمیر په دوامداره توګه راټیټ شوی چې ښایي اروپايي هېوادونو څخه د راستنېدلو، د اقتصادی فرصتونو کموالی او په ایران او پاکستان کې د خوندیتوب کموالی یې لاملونه وي. په ۲۰۲۰ کال کې بهرنیو هیوادنو ته د کډوالۍ شمېر کې د پام وړ ټیټ والی لیدل کېږي چې په ډېر احتمال سره یې لامل کووید-۱۹ دي. د کلیدي معلومات ورکوونکو په وینا د ۲۰۱۲ کال راهیسې ۳۰۹،۱۳۱ افغانان له فارياب ولایت څخه بهرنیو هېوادونو ته تللي دي چې په ډېر احتمال سره دا کار د اوږد مهاله جګړې له امله شوی چې د پرمختګ مخه یې نیولې او د معیشت له لاسه ورکولو او د فقر لامل ګرځېدلی.

**۳,۰۲۲,۸۸۹**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۳۹۹,۹۵۴**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱۳٪)

**۱,۹۲۵,۹۴۲**
ایران ته تللي دي (۶۴٪)

**۶۰۷,۸۶۸**
پاکستان ته تللي دي (۲۰٪)

د ولایت پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر




د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | عمومي




بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر




ترکیه او اروپايی هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر




ایران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر



## څو سکتوریزې اړتیاوې


په هېواد کې ۲۸۳،۰۲۸ کورني بېځایه شوي د دې کورنیو بېځایه شویو په شان چې هرات ولایت کې دي په غیر رسمي سیمو کې په فقر کې ژوند کوي. © IOM ۲۰۲۰


۷۹۲,۶۰۵ کورني بېځایه شوي او راستنېدونکی د څښاک اوبو ته محدود لاسرسی لري. لکه د جوزجان ولایت د دې کلي په شان، ټولنې ډېرې وخت دې ته اړ کېږي چې د څښاک لپاره له سر خلاصو غیر خوندي سرچینو څخه اوبه واخلي. © IOM ۲۰۲۰


لکه دا ماشومان چې په بغلان ولایت کې دي، ماشومان ډېرې وخت د اوږدې لارې مزل کوي ترڅو د خپلو کورنیو لپاره اوبه انتقال کړي چې دا کار په خپله د خوندیتوب خطرونه منځ ته راولي. © IOM ۲۰۲۰


د اوبو خوندي سرچینو ته د لاسرسی نه درلودل او محیطي شرایط د کورنیو بېځایه شویو او راستنېدونکو کورنیو لپاره ژوند ستونزمن کوي، لکه دا ماشومان چې په بامیان ولایت کې د ژمي سړې هوا کې د اوبو د انتقال لپاره د اوږدې لارې مزل کوي.


پناه ځای ته اړتیا ډېره زیاته لیدل کېږي. د دې کورنیو بېځایه شویو به شان چې په لوګر ولایت کې په خیمو کې ژوند کوي، د هېواد به کچه ۲۸۴،۶۴۳ راستنېدونکي او کورني بېځایه شوي په خراب وضعیت کې په خیمو یا هم آزاده فضأ کې ژوند کوي. © IOM ۲۰۲۰


لکه دا هلکان او انجونې چې په بغلان ولایت کې یو ځای سره درس وایي، ډېرې نور کورني بېځایه شوي او راستنېدونکي ماشومان هم د زده کړې آسانتیاوو ته لاسرسی نلري او مجبور دي چې په آزاده فضاء او یا خیمو کې سبق ووایي.© IOM ۲۰۲۰


لکه څرنګه چې په انځور کې ښکاري په سکال ژمي کې د اورښت د کموالي له امله د وچکالۍ نښې جوته دي چې ښايي کرنه، مالداري او معیشتي فرصتونو اغیزمن کړي. © IOM ۲۰۲۰


د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) کارکوونکي لکه دا کارکوونکی په دایکندي ولایت کې د کلیو د ارزونو په ترځ کې د کووېډ-۱۹ اړوند معلوماتو او موادو په خپرولو سره له RCCE کاري ګروپ څخه ملاتړ کوي. © IOM ۲۰۲۰

## د يوه بېځايه شوي کيسه

### حسين: د تجارت پيل او ټولنه کې مدغم کېدل

حسين چې ۲۳ کلن راستنېدونکی دی اصلاً له غزني ولايت څخه دی. هغه څلور کاله مخکې ايران ته کډوال شوي وه او په غير رسمي سکټور کې يې د دوه کلونو لپاره کار وکړ ترڅو اروپا ته تګ لپاره يې د لارې پيسې کمايي کړې. حسين ترکيه ته سفر وکړ او غوښتل يې چې د اروپا په لور پر مخ ولاړ شي خو ونشو کولای چې د ترکيه او يونان مرز څخه تېر شي.

> ”د يو غير قانوني مهاجر په توګه زه په لاره کې او هم په ترکيه کې له ډېرو ستونځو او ګواښونو سره مخ شوم خو بيا مې هم ونشو کولای د اروپا په لور پر مخ ولاړ شم ځکه چې سرحدونو تړلي ول او د سرحدي ځواکونو قوي نظارت پر ټولو مرزي نقطو موجود وه.“

حسين په ترکيه کې د يو کال اوسېدلو وروسته بېرته افغانستان ته راستون شو. هاغه هغه پيسې چې هېواد څخه بهر يې کمايي کړې وې د توت زميني د فارم جوړولو لپاره يې وکارولې.

> ”ما د کرنې برخه کې کافي تجربه او معلومات نه درلوده. له نورو بزګرو څخه مې هم وپوښتل خو هغوی هم کافي معلومات نه درلوده نو ځکه مې انټرنټي معلوماتي پاڼو ته مخه کړه او د توت زميني د فارم په هکله مې معلومات راټول کړل.“

حسين وکولای شو د ۱۹۳،۰۰۰ افغانۍ په سرمايه سره د توت زميني فارم جوړ کړي. هغه په خپل تجارت کې ډېر بريالی دی. هغه د هر کيلو توت زميني څخه ۱۹۰ تر ۲۰۰ افغانيو پورې ترلاسه کړي. هغه پام کې لري چې په خپل ولايت کې نور فارمونه هم جوړ کړي او په راتلونکي کال کې خپله ګټه دوه برابره کړي.

* د يادونې وړ ده چې په دې کيسې کې نومونه بدل شوي او د سيمې نوم نده ياد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوي خوندي ووسي.



حسين چې له بهر يو راستنيدونکی دی وکولای شو د توت زميني فارم جوړولو سره کوربه ټولنه کې په بريالیتوب سره مدغم شي. © IOM ۲۰۲۰

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړيوال ملاتړ ټيم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسايل او توکي چې د کار په ترخ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکيت، سيمه او يا هم د هغه د چارواکو او يا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړيوال سازمان له هېڅ نظر يا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړيوال سازمان (© IOM ۲۰۲۰)

د لا زياتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړيکه کې شئ**

د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټيم سره په اړيکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي:

د اروپا اتحاديه
ګډه بودجه په وسيله
تمويل شوی




د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + راغلي کورني بېځايه شوي)



بهرنیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې




د رارسېدلیو کورني بېځایه شویو کسانو کوربه ولسوالۍ ګانې




د کورنۍ بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ کانې چې پرېښې يې دي




بهرنیو هېوادونو ته د کډوال شویو کسانو اصلي ولسوالۍ ګانې




د پخوانیو کورني بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې